رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته وفرمايل - حال دا چې - هغه رښتينى او امانتدار دى چې: «ستاسو څخه د يو تن پېدابښت داسې وي چې د خپلې مور په ګېډه کې خلويښت ورځې او خلويښت شپې راټولېږي

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى: رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته وفرمايل - حال دا چې - هغه رښتينى او امانتدار دى چې: «ستاسو څخه د يو تن پېدابښت داسې وي چې د خپلې مور په ګېډه کې خلويښت ورځې او خلويښت شپې راټولېږي ، بيا د پنډ شوي سختې وينې په څېر شي، بيا د غوښې ديوې ټوټې په څېر - چې ژول شوي وي - وګرځي، بيا ورته ملايکه راولېږل شي او د څلورو خبرو حکم ورته وکړل شي، نو د هغه رزق، اجل، عمل، نېکمرغي او يا بد مرغي وليکي، بيا پکې ساه پوکړل شي، نو يو څوک به داسې وي چې د جنتيانو عملونه به کوي تر دې چې د هغه او جنت تر منځه يو ګز واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې رامخکې شي او د دوزخيانو عمل به ترسره کړي او اور ته به داخل شي، او يو څوک به داسې وي چې د دوزخيانو عملونه به تر سره کوي، تر دې چې د هغه او د دوزخ تر منځه يو ګز واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې رامخته شي او د جنتيانو عمل به وکړي نو جنت ته به داخل شي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

خپلو خبروابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته دا خبره کړې ده او هغه په کې رښتينى دى؛ ځکه چې الله تعالى ريښتونى ګڼلى دى. هغه وفرمايل: ستاسو څخه د يو تن جوړښت راټوليږي، داسې چې کله يو سړى د خپلې مېرمنې سره يو ځاى کيږي، نو د هغه شېندل شوي مني د ښځې په رحم کې د خلويښتو ورځو لپاره د نطفې په شکل کې راټوليږي. بيا علقه وګرځي چې هغه ټينګه او وچه وينه ده، او دا - کار - په دويمه خلويښتې کې کيږي، بيا مضغه شي؛ چې هغه د غوښې دومره اندازه ټوټه ده چې ژولو ته برابره وي، او دا په دريمه خلويښتې کې کيږي. بيا ورته الله تعالى ملايکه راوليږي، نو د دريمې خلويښتې په پاى کې پکې روح پوکړي، ملايکې ته امر وشي چې څلور خبرې وليکي: د هغه رزق؛ چې له هغه اندازې نعمتونو څخه عبارت دى چې په خپل عمر کې به يې لاسته راوړي، د هغه اجل؛ او دا په دنيا کې د هغه د پاتې کېدا موده ده، د هغه عمل، چې څه دى؟ او دا چې آيا نيکمرغه دى که بد مرغه. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم قسم ياد کړ چې يو سړى به د جنتيانو عمل کوي او عملونه به يې نيک وي، يعنې هغه څه چې خلکو ته ښکاري؛ تر هغه وخته پورې به همداسې وي، تر دې چې د ده او جنت تر منځه يوازې د يو ګز په اندازه فاصله پاتې شي، يعنې د ده او جنت ته د رسېدو په منځ کې به دومره فاصله پاتې شي لکه د يو ګز په اندازه، نو تقدير او هغه څه به پرې غالب شي چې ورته ليکل شوي دي نو د دوزخيانو عمل به وکړي، نو په همدې سره به يې خاتمه وشي او اور ته به داخل شي. ځکه چې د عمل د منلو شرط دا دى چې په هغه باندې ثابت قدمه پاتې شي او بدلون ورنکړي. او د خلکو څخه يو بل تن به د دوزخيانو عمل تر هغه وخته پورې کوي چې هغه دوزخ ته ننوتلو ته نږدې شي او داسې به وي لکه د ده او د اور تر منځ چې د ځمکې د يو ګز په اندازه واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې غالب شي او هغه څه چې ورته ليکل شوي دي نو د جنتيانو عمل به وکړي او جنت ته به داخل شي.


النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY


لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee